دریمه (۳) برخه:

## د افغانستان د تعلیمي نظام لپاره اصلاحي طرحه
## او د نجونو د تعلیم اړتیا او پراختیا




**محمدآصف ننګ**

د پوهنې وزارت پخوانی سرپرست او مسلکي مرستیال


### 5 پر تخنیکي، مسلکي او حرفوي زده کړو تېڼګار

***Technical and vocational education and training***

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اهمیت او ګټورتوب د آلمان، کوریا، سریلانکا او استرالیا هېوادونو له اهتمام او نتایجو څخه پوهیدلی شو، په آلمان کې 16 ایالتونه یا فدرالي تشکیلات دي، دا هېواد د تخنیکي، مسلکي او حرفوي زده کړو لپاره 16 وزارتي ادارې لري، یعني هر فدرالي ایالت یې د وزارت په کچه د تخنیکي، مسلکي او حرفوي زده کړو لپاره یوه اداره لري، په بل عبارت تقریباً د ټول آلمان د زده کړو سیستم یې تر 66٪ پورې تخنیکي، مسلکي او حرفوي زده کړو ته ځانګړې شوي، چې شخصاً همداسې تعلیمي تحول او په همدې کچه د عمومي تعلیماتو د بدلون (په تخنیکي، مسلکي او حرفوي زده کړو) وړاندیز د افغانستان رهبرۍ ته لرم.
په آسترالیا، کوریا او سریلانکا کې هم په مشابه توګه دغو زده کړو ته پراخ اهتمام ورکړل شوی، که د دنیا په کچه د تخنیکي، مسلکي او حرفوي زده کړو انکشاف او پراختیا ته وګورو په زیاترو هېوادو کې دغو زده کړو ته اهتمام په بې سارې توګه زیات شوی.



په مخ پر وده او پسمانده هېوادونو، لکه افغانستان، کې باید دغو زده کړو ته ډېر زیات ارزښت ورکړل شي ځکه چې دغه زده کړې کولی شي ځوانانو او پېغلو ته په پراخه کچه د کار په بازار کې کاري فرصتونه او بوختیاوې مهیا کړي، اقتصادي وده چابکه کړې او د بې کارۍ معضل چې د هېواد په ټولنیزو او امنیتي بحرانونو کې عمده نقش لري باید د تخنیکي او مسلکي کدرونو یا تکنیشن په روزنې سره دغه خلا ډکه کړی شي. پدې هکله به په ځانګړې لیکنه کې تفصیلي بحث وکړم، خو دلته یواځې پر دې ټېنګار کوم چې که غواړو با کیفیته تعلیمي نظام، هدفمند او سرنوشت ټاکونکی تعلیمي نصاب ایجاد کړو نو تر ټولو زیاته پانګونه او اهتمام باید پر تخنیکي، مسلکي او حرفوي زده کړو وشي. پدې هکله مې څو کاله مخکې چې دهمدې زده کړو مسوول وم یو تفصیلي تحقیقي اثر ترتیب کړی چې پکې د دې زده کړو په چوکاټ کې چې فعلاً پکې 33 رشتې دي، ددغو رشتو شمېر باید تر 300 رشتو ورسیږي، په جرمني، سریلانکا او استرالیا کې مې د خپلو څېړنیزو سفرونو په لړ کې د همدغو هېوادو تجربه، د همدې زده کړو لپاره د هغوی کړنلاري او دولتي پلانونه تر مطالعې لاندې ونیول چې نتیجه یې د افغانستان لپاره کاملاً ګټوره تمامیږي، البته په دغو 300 رشتو کې شاوخوا 50٪ رشتې یې ښځینه محوره Women oriented او بازاریابه Market driven رشتې دي چې د افغانستان غوندې محافظه کاره ټولنې کې د ملي اقتصاد یوه غټه برخه یې منزلي اقتصاد Home Economics دی او همدا برخه په تحرک راوستلی شي.

### 6 د تعلیم په جهاد کې د ټولنې او بنسټیونو شریکول

د تعلیم جهاد، دغه تعبیر مې د ایران له هغو دوو جهادونو (جهاد تعلیم، جهاد کشاورزی) استنباط کړی. همدا دوه جهادونه کولی شي د افغانستان تقدیر او سرنوشت بدل کړي، په افغانستان کې له پېړیو راهیسې اقتصادي ضعف، وابستګۍ، بې ثابتۍ او پسماندګۍ حاکمه ده چې د جیوایکونومیک او جیوپولتیک عواملو ترڅنګ یې عمده دلیل بې سوادي او له علومو او تکنولوژۍ څخه لیریوالی او تعلیمي محرومیت دی. تر کال 2024 پورې د بېسوادۍ کچه لاهم 74٪ وه، زده کړو ته د مکتب د عمر د ماشومانو د محرومیت میزان شاوخوا 5 میلیون، چې 77٪ یې انجوني دي، رسیږي، په تېرو 24 کلونو کې حدوداً 2 نیم میلیون زده کوونکي له 12 ټولګیو فارغ شوې چې د انجونو سلنه پکې 22٪ ته رسیږي. هکذا د پوهنتونونو او د لوړو زده کړو له دولتي او خصوصي موسساتو د فراغت میزان د کار د بازار له ضرورت څخه نهایت کم او نامتناسب دی. لاهم د کار بازار په زراعتي، صنعتي او خدماتي سکتورونو کې له شدیدې کدري او کاریګري خلا رنځ وړي. د مور او ماشوم د مرګ و میر له پلوه افغانستان په ۲۰ غټو هېوادو کې راځي چې دلیل یې د روغتیایي پرسونل، ښځینه ډاکټرانو، قابله ګانو او نرسانو او د طبي خدمتونو د اساسي سهولتونو کمښت او ټیټ کیفیت ته راجع کیږي.

### د څو لسیزو خلا او د معارف نوی مزل!

د خوښۍ خبر او په عین وخت کې مشکل دا و چې په 2003 م کال کې زده کړو ته د مکتب د عمر (7-10کلونو) مراجعه تر 3 میلیون ورسیده، په داسې حال کې چې د پوهنې وزارت یواځې 300 زره (درې لکه) زده کوونکو ته د جذب لپاره بودجوي، تخنیکي او کدري توانمندۍ او آمادګۍ درلوده، طبعاً دغه د 2.7 میلیون اضافي بوج په سبب تر نن پورې تعلیمي کیفیت او د خدماتو د عرضه کولو کچه په منفي توګه اغیزمنه شوې او پر تعلیمي کیفیت او نظم یې بد اثر غورځولی.

د پوهنې وزارت په 2005 کې د خصوصي ښوونځیو مقرره پاس او د تاسیس اجازه یې خصوصي سکتور ته د خصوصي مکتبونو د ایجاد مجوزونه صادر کړل تر څو پدې توګه دغه د زده کوونکو روزافزون فشار راکم او پدې توګه د تعلیم په جهاد کې ټولنیزه مشارکت ته زمنیه مساعده کړي، که څه هم تر کال 2024 پورې د خصوصي سکتور د مشارکت کچه تر 16٪ پورته نده تللې خو بیا هم د با کیفیت تعلیم د ترویج او رقابتي فضا د رامنځته کولو په موخه دغه ماموریت او ونډه د وطن د بچو د باسواده کولو لپاره ګټوره تمامه شوې.

د خصوصي سکتور دغه ونډه ډېره کمه ده، لازمه ده چې د افغانستان په څېر غریب او له سواد محروم هېواد کې د خصوصي سکتور ونډه تر 50٪ پورې لوړه او هم د دولت پاملرنه د معارف سکتور ته په تر ټولو لوړ لومړیتوب کې راشي.

په تیرو دوو لسیزو کې د ښوونځیو تر 50 ډېرې ودانۍ د هېواد د پانګوالو او با احساسه افغانانو لخوا ایجاد شوې، په زرګونو مکتبونه په نسبي توګه د افرادو او اشخاصو لخوا تمویل او یا یې مساعدت ترسره شوی، منتها لاهم په معناداره توګه د تعلیم په جهاد کې د ټولنې مشارکت او ونډه ډېره ټېټه ده.

**د معارف اقدام او هڅې:**

پدې خاطر چې دولت وکولی شي اړوند محرومیتونو او کمبوداتو ته رسیدګي وکړای شي، لازمه ده چې د ټولنې د مشارکت لپاره په پراخو کمپاینونو او تسهیلاتو لاس پورې کړي، خصوصي سکتور ته تسهیلات او مشوقات پراخ کړي، د معارف د ملاتړ او مساعدت لپاره تعاوني صندوقونه ایجاد کړې، د ښوونکو د معنوي او مادي ملاتړ لپاره د ځانګړو تشویقي پنډو په ایجاد سره او هم د دولت د کارکوونکو، د رتب او معاشاتو په قانون او د کار په قانون کې د ښوونکو په ګټه بدلون او تعدیلات راولي، د پوهنې وزارت په بودجه کې دې د ملي بودجې ونډه تر 25٪ لوړه شي (فعلاً دغه ونډه تر 13-14٪ پورې رسیږي او په تیرو 24 کلونو کې همدا میزان چلیدلی)، د پوهنې او زده کړو لپاره دې موجوده اصول (حضوري زده کړې) تعدیل شي، تر څنګ یې له لیرې واټن زده کړې Distance education یا آنلاین زده کړې باید په رسمي سیستم کې هم ځای پر ځای شي، د انجونو پر مخ د ښوونځیو او لوړو زده کړو دروازې باید پرته له کوم ځنډ پرانیستل شي، د سواد د زده کړې پروګرامونه باید له ټاکلو اهدافو سره سم (چې هر کال باید تر یو میلیون وګړې تر پوشش لاندې ونیول شي) تنظیم او ترتیب کړی شي. پدې ماموریت کې د ټولنې د مشارکت ترڅنګ نړیوال مشارکت هم مهم دی، هیڅ مخ پر وده هېواد پرته له نړیوال مشارکت نشي کولی د بېسوادۍ په محوه کولو برلاسی شي، طبعاً دولتونه مکلف دي د خپل هېواد د روزنې او ښوونې کنترول پخپله ترسره کړي، له ټاکلو ارزښتونو یې څارنه او له ټاکلو اهدافو یې ساتنه وکړې، دولت کولی شي د نړیوال مشارکت لپاره لومړیتوبونه وټاکي او په هغو برخو کې یې ونډه پراخه کړي چې دولت یې په انجام او ترسره کولو کې کدري یا بودجوي کمښت لري، په یاد باید ولرو چې لزوماً د نړیوالو مشارکت د سیاسي اهدافو لپاره ندی، بلکې ګڼ شمېر انساني همکارۍ او همدردۍ په روایتي توګه په نړۍ کې وجود لري چې په سبب یې نړیوال مشارکتونه او همکارۍ له نسبتاً فقیرو هېوادو سره ترسره کیږي او هدف یکې د فقر، بې وزلۍ او د بې سوادۍ سطحه کمول دي چې په غیر مستقیم ډول پر نړیوال امنیت، د مهاجرتونو پر کنترول، اقتصادي وده او غذایي مصئونیت تاثیر غورځوي...هغه اهداف چې د ملګرو ملتونو سازمان او مشابه سازمانونه ورته جوړ شوې دي.

لنډه دا چې دولت مکلف دی د تعلیم او زده کړو ماموریت او جهاد په یوه لوی ملي دایمي کمپاین او د دولت په لویو برنامو کې شامل او لومړیتوب ورکړي. تر څو چې د هېواد ټول وګړې د تعلیم په جهاد کې شامل نشي او د بشپړ مالکیت احساس یې ونکړي دغه د پېړیو جهالت او بېسوادي نشي ختمیدای او چې دا ختمه نشي د افغانستان کړکیچونه، نیابتي، منطقوي او نړیوالې لوبې او یرغلونه هم نشي ختمیدای او افغانستان له ثبات، د پردیو له احتیاج او خودکفایې نشي برخمن کیدای.

### 7 *د نجونو د تعلیم اړتیا او په اړوند ځانګو کې یې پراختیا طرحه*

که څه هم دا وخت د نجونو د تعلیم د اړتیا او پراختیا په هکله بحثونه تر یوه حده سیاسي، پروژه یې او سلیقوي شوې دي، خو دلته د یوه خپلواک محقق او تجربه کار په توګه غواړم د افغانستان د میداني واقعیتونو پر بنسټ دغه موضوع راوسپړم.

**د انجونو د تعليم او تعلم وضعيت:** لکه چې پورته په مختلفو برخو کې د ارقامو په ژبه او په ضمني توګه اشارې وشوې، د افغانستان په تعليمي نظام کې د انجونو ونډه له کلونو راهيسي کمه وه، په تيرو 20 کلونو کې (د طالبان تر حاکميت د مخه) د افغانستان (له 416 ولسواليو) په څه د پاسه 200 ولسواليو کې ښځينه معلمان او په څه د پاسه 230 ولسواليو کې، په ثانوي دورې کې، د ښځينه زده کوونکو نه شتون د معارف لپاره يو تر ټولو لوی مشکل او معضل و چې متاسفانه اوس لازيات پراخ شوی.
په ښارونو کې هم وضعيت چندان د قناعت وړ ندی، د ښځينه مسلکي معلمينو او ښځينه لابرانت ښوونکو شمېر تر اړتيا په مراتبو کم دی، له ظرفيتي لحاظ له 35٪ کم ښځينه ښوونکي په ساينسي مضامينو کې خپل تخصص په دارالمعلمينو کې تکميلوي، د پاتې 75٪ لازمي کدرونو خلا يو بله هغه ستونزه ده چې په ښارونو کې د انجونو د تعليم پر کيفيت يې منفي اغيز غورځولی.



**د دې مشکل لاملونه:** په محرومو دهاتي سيمو کې څو عمده دلايل: ناامنی، کلتوري او فکري موانع، کدري او مسلکي کمبود، اقتصادي ستونزي، د همدې مشکل د حل لپاره بودجوي کمښت او په مجموع کې د معارف له لورې د اساسي ښوونيزو خدمتونو «ښوونځي، تعميرات، ښوونکو» د کمښت په سبب دغه ماموريت تر پايه ټکنی پاته شوي.
په ښارې سيمو کې يې دليلونه: د ټېټ او ناکافي معاش په سبب کورنۍ دېته زړه نه ښه کوي چې خپلې خوندې او لوڼې د معلمې سپېڅلې دندې ته راوليږي، ځکه خو د دارالمعلمينو د جذب کچه د رعايتي شرايطو باوجود په دارالمعلمينو کې د ماقبل خدمت Preserviceښځينه سيټونه په غټه پېمانه خالي پاته کيږي.

**د دې ستونزي د علاج هڅې:** ددې مشکل د حل لپاره په تېرو دوو لسيزو کې د پوهنې وزارت ګڼ اجراات او فعاليتونه ترسره کړل، دعامه پوهاوي کچه لوړول، چې پدې لړ کې د «ايکويپ برنامې» له لارې د ټولنيز تحرک Community Mobilization په چوکاټ کې کلونه کلونه له ټولنې، جوماتونو، امامانو، قومي مشرانو او د ښوونځيو د حمايت د شوراګانو په ايجاد سره کار وشو، په ميداني توګه «مکتب ته د شموليت اشر» تر عنوان لاندې کمپاينونه په لاره واچول شول، د مطبوعاتو او عامه رسنيو له لارې د عامه پوهاوي

کمپاینونه، له متوسطه دورې فارغو نجونو ته د چټکو زده کړو پروګرام، ښوونځي په کور او هجره کې پروګرام یا CBE، په امتیازي معاش د ښځینه ښوونکو ګمارنه، په تشویقي پنډو په دارالمعلمینونو او د ښوونکو د روزنې په مراکزو کې د 12م پاسو نجونو د رعایتي شمولیت او جذب لپاره تشویقي پروګرامونه، د مسافرو ښځینه ښوونکو او د هغوی د فامیل لپاره په دهاتي او محرومو سیمو کې د استوګنې د مصارفو تر څنګ هغوی ته امتیاز دهاتي معاشونه ورکول، له پوهنتون څخه فارغو لیسانسه اناثیه و ته د امتیازي استخدام او امتیازي معاش ټاکنه، په اړوند محرومو ولایتونو کې نجونو ته د لیلیه مکاتبو ایجادول او داسې نور ګامونه ترسره شول خو بیا هم دغه ستونزې او کمبود ډیرو منابعو او کلونو ته ضرورت درلود.

**له تعلیم د محرومیت زیانونه:** په اوس وخت کې 1.4 میلیون (حدوداً یو نیم میلیون) زده کوونکي انجونې د متوسطه او ثانوي دورې او شاوخوا 60 زره د پوهنتونونو زده او نیمه عالي موسساتو کړالیانې له تعلیم او تحصیل محرومې شوې دي، چې د تعلیمي انقطاع یې درې نیم کاله اوړې.

د لوړو زده کړو د ۱۳۹۹م کال د ژورنال له مخې په لوړو زده کړو کې (په خصوصي او دولتي موسساتو کې) شاوخوا 400 زره محصلین په زده کړو بوخت ول چې 28% یې (80زره یې)ښځینه وې، طبعاً په راتلونکې 1400کال کې به دغه ارقام نور هم پورته شوې وې.

حتی که دوباره د زده کړو اجازه ورکړل شي د انجونو تعلیمي او تحصیلي سلسله دومره صدمه لیدلې چې جبران یې آسانه ندی له دوی څخه به غالباً د تیرو کلونو درسونو هم هېر شوې وی نو اولاً خو هغه تسلسلي او تکاملي زنجیره دوباره نشي وصلیدلی، ثانیاً که چېرې د انجونو تعلیم ته بشپړه زمینه هم ورکړل شي، لازمه ده چې دوی په یو کال تنزیل سره په پخوانې نه بلکې په لاندنیو صنفونو کې شامل کړای شي، خو که چېرې دوي ته ارتقایي او د دوام چانس ورکړل شي نو د زده کړو او فراغتونو کیفیت به یې کاملاً ټیټ او بې معیاره وي، بلکې په آینده کې به د دوی د لوړو زده کړو پوهنتوني فراغت هم له کیفیتي پلوه ټیټ او ناقص وي.



که پام وکړو دا په حقیقت کې د وطن میلیوني ښځینه زده کوونکو، بلکې ټول افغان نسل، دولتي کیان او ټولنې ته په لوی لاس داسې زیان رسول دې چې په حقیقت کې دوو راتلونکو نسلونو ته یې د تاوان او خسارې تسلسل رسیږي.

متاسفانه دا بندش د افغانستان د تاریخ یو ډېر دردناکه روایت دی، هغه روایت چې عار به یې په تکرار سره موجوده زعامت او په مجموع کې زمونږ وګړو ته ور اوړي! که لیږ پراخ نظر وکړو نو په نړیوال کلي Global village کې د مبتکره علمي او متفکره مغزو د تبادلې په یوه لوی انساني او اقتصادي کلي او دهکدې تبدیل شوی، پدې ګډ کلي کې په ډیر شدت سره د نړۍ نور مسلکي او متخصصه انسانان ددې کلې او بازار په فکري او کدري مالکانو تبدیلیږي، په داسې حال کې چې افغان انسان او بخصوص زمونږ

مومنې لوښي لدې وندې بې برخې دي بلکې په دې نړیوال کلي کې زمونږ نارینه هم تر ټولو د بې وسه، مصرفي او کم ګټې وګړو په حیث د کمزوري او ناتوان بشر په عنوان پکې پاته دي...د هغه آیت په مصداق... «سَنُرِيهِمۡ ءَايَٰتِنَا فِي ٱلۡأٓفَاقِ وَفِيٓ أَنفُسِهِمۡ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمۡ أَنَّهُ ٱلۡحَقُّۗ أَوَلَمۡ يَكۡفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٌ...» او د نورو ګڼو دیني ارشاداتو له مخې لازمه ده چې مسلمانانو د خدای خلیفه په عنوان د خپل خالق د بشپړ معرفت لپاره د دیني او دینوي علومو تر څنګ پر آفاقو، فلکیاتو، بحرونو او د کائیناتو پر ټولو علومو خبره، سیطره او تفوق درلودلی...که په دې حکم عمل شوی وای نن به د نړیوال کلي سرداري د مسلمانانو په برخه وای...اما متاسفانه نن افغانان د نړۍ د تر ټولو فقیرو، محتاجو او خیرات خورو ملتونو په لړ کې راځي او اصلي علت یې بې سوادي او علمي ناتواني ده.



خپل بحث ته راګرځم، د نجونو د تعلیم د موجوده محدودیت او ممنوعیت په اړه حتی که رسمي مجوز هم وجود ولري، نه ملي او نه نړېوال قناعت ددې بندش او خدايي حق په هکله جلبیدای شي، اوس وخت تعلیم یوه نړیواله، عامه، ضروري او مطلقه پدیده ده چې په اسلامي او غیر اسلامي ټولنو کې يې د ترويج او د حقوقي تثبيت په هکله ګډ اتفاق وجود لري، ځکه خو د افغانستان موجوده ممانعت قطعاً د توجيه وړ ندی نو چارواکو ته پکار ده تر څو ددې انساني بشري حق او خدایی حکم په تسلیمیدو او ایله کیدو کې بېړه وکړي تر څو د عصر دا بده ملامتي مزيداً پر موجوده زعامت، زمونږ پر تاريخ او د ولس پر تندي حک پاتې نشي!!

اوسني د زده کړو بندش، چې شاوخوا درې نیم کلونه پرې اوړي، په څو دلایلو د مکث او اندېښنې وړ دی: *لومړی* دا چې دا بندش د هېواد د حاکمې رهبرۍ لخوا په رسمي ډول نافذ دی، يعني د کومو مادي یا معنوي معاذیرو یا د اضطراري وجوهاتو په سبب او د مجبوریت له مخې ندی، *دویم* دا چې دغه بندش ته ديني یا کلتوري توجیهات پنځول کیږي، که څه هم په ظاهره د نظام مسوولین پدې هکله خاموش دي، خو د بندش په هکله د علماوو د متفاوتو لیدلورو موجودیت د مسوولینو لخوا مطرح کیږي… *دریم* د غور وړ ټکي دا دی چې دا بندش نه یوازې د ثانوي زده کړو په کچه بلکې دا ځل د انجونو پوهنتونونه، دارالمعلمینونه او انستیتوتونه هم بند دي چې د هېواد د واجبي ضرورتونو لپاره د علمي کدرونو د تربیت او استخدام په ساحه کې د جدي کمبود په عنوان یوه کاملاً د اندېښنې وړ موضوع ده…*څلورم* د اندېښنې وړ ټکی دا دی چې ددې بندش په هکله هیڅ رسمي دریځ او استدلال نه بیانیږي، تر څو يې په اړه دادخواهي او د قناعت لپاره تلاش وشي، په رسمي توګه چارواکو ندی ویلې چې د کوم حکمت او مصلحت له مخې يې د تعليم دروازې د انجونو پر مخ بندې کړې دي؟ آیا په تعلیمي نصاب کې مشکل دی؟ آیا د زده کړو او تحصیل په ګډ نظام نیوکه لري؟ آیا د نجونو په لباس یا درسي میتودونو نیوکه وجود لري ؟ یا د تعلیمي خدماتو او سهولتونو او یا د نوروکمبوداتو او نواقصو په هکله کوم ایراد وجود لري…؟ واضح ده چې دوامداره بندش به يخپله د حاکم نظام اعتبار او وجاهت ته يې دومره زيان واړوي چې کلونه کلونه به يې جبرانول زيات وخت او ډېرې منابع ونيسي.

**د انجونو د زده کړو لپاره حیاتي ساحې:** لکه چې وویل شول لازمه ده د زده کړو اوسنی نظام او نصاب له عمومي نصاب څخه تخنیکي، مسلکي او حرفوي زده کړو ته واړول شي، پدې صورت کې به زمونږ فراغتونه بخصوص د نجونو مسلکي فراغتونو په لسګونو حرفو او رشتو کې معناداره، د کورنیو د مادي او معنوي تقویې، په ټولنه کې د فعاله ونډې او مشارکت لپاره حیاتي او د اقتصادي موثریت له پلوه به کاملاً ګټور وي.

پورته مې تاکید کړی و چې په تخنیکي، مسلکي او حرفوي علومو او فنونو کې څه د پاسه 300 داسې رشتې او ساحې دي چې ښځینه محوره او بازاريابه دي، ماسوا لدينه په طبي برخو کې ګڼې رشتې او مسلکونه دي چې ورته ښځينه کدرونه لازم دي، په روغتیایې سکتور کې د وحشتناکې خلا او د مور او ماشوم د مرګ و میر لوړه کچه ایجاب کوي چې په لکهاوو میرمنو ته پدې ساحې کې د خدمت او مسلکي طبي زده کړو چانس مهیا شي، هکذا د حکومتدارۍ په لسګونو داسې ځانګې او عامه او خصوصي سکتورونه دي چې ښځینه استخدام ورته لازم دی، زما په نظر پدې زمانه کې دغه منطق ته استدلال لټول چې ښځينه دې په ټولنه کې تعليم او کار وکړې کنه او په کومو ساحاتو کې يې وکړې چندان د بحث وړ نده، ځکه چې دا یو مسلم او ثابت واقعيت دی چې دښځینه و نقش او د هغوي حضور کاملاً حتمي او حیاتي دی، دا چې څه ډول شرايط د دوی د کار او تعليم لپاره لازم دي هغه یوه انتظامي موضوع ده چې رعايت او تطبيق يې په آسانه او صميمي توګه ترسره کيدای شي، منتها اصلي مقصد او وجيبه چې تعليم او توانمندسازي ده بايد تعطيل نشي. د وطن د بچو د پرورش لپاره باید د سبا ورځ مور دانا، آګاه او له علم او معرفت څخه، چې یو لوی فضیلت دی، برخمنه اووسي.